UNAMA

د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره

د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان

مطبوعاتی اعلامیه

http://unama.unmissions.org

## یوناما په افغانستان کې د ملکي وګړو د ساتنې په موخه پر ډیالوګ باندې ټینګار کوي

کابل ـ د ۲۰۱۳ کال د فبروري ۲۵ نیټه: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي( یوناما) د طالبانو له "پرانیستي لیک" چې د ۲۰۱۳ کال د فبروری د میاشتې په ۲۲ نیټه په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د تحفظ په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال د کالنی راپور په غبرګون کې په عامه توګه نشر شو، اګاهي تر لاسه کړې. ( د یوناما بشپړ راپور د یوناما له ویب پاڼې په دې پته http:// unama.unmissions.org تر لاسه کولی شی)

یوناما د طالبانو له دې اعلامیې څخه د یو با مفهومه ډیالوګ د پیل لپاره د یوې بلنې په توګه هر کلی کوي، چې له مخې یې د بشري حقونو او بشر دوستانه موضوعاتو په اړه د افغانستان د ټولو خلکو لپاره غور وشي. همدارنګه دغه ډیالوګ باید له نړیوال بشر دوستانه قانون سره په سمون کې په وسله واله جګړه کې له ملکیانو سره په چلند، د سرچینې د نه په پام کې نیولو سره د ملکي تلفاتو په کره کولو او له توقیف شوو کسانو سره د سلوک په اړه هم تمرکز ولري.

یوناما طالبان دې ته هڅوي چې دغه راپور له بشپړو جزییاتو سره مرور کړي چې په ترڅ کې یې ځینو هغو ټکو ته هم ځواب ویل شوی چې د دوی په " پرانیستي لیک" کې یې یادونه شوې ده.

یوناما په دغه ډیالوګ کې د ګډون په موخه پر خپل وضاحت او چمتوالي باندې د یوې هڅې په توګه ټینګار کوي تر څو د هیواد په کچه د ملکیانو تحفظ او د هغوي بشري حقونو ته درناوی چې د ډیرې اوږدې مودې لپاره په تراژیکه توګه اغیزمن شوي دي، لا زیات شي.

پای

------------------------------------------------------------------------------------------------

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**